بسم الله الرحمن الرحيم

## د امریکا په مشرۍ پانګوال نړیوال نظم او د دغه نظم واکمني او اړوند بنسټونه په تل پاکستان خپل غلام ساتي

**خبر:**

د ۲۰۲۲ کال د نومبر په دویمه نېټه د ریکو ډیک (Reko Diq) د مسو او سرو زرو د کان پروژې په اړه د ولسمشرۍ مرجع (Presidential Reference) اورېدو پر وخت قاضي منیب اختر د پانګې اچونې د شخړو د هواري لپاره نړیوال مرکز (ICSID) لخوا د پاکستان پر وړاندې د ۶،۵ بیلیونو ډالرو وروستۍ پرېکړه «اټومي بم» وباله؛ ځکه چې د نړۍ په هر ځای کې یې د پلي کېدو لپاره په پام کې نیولی شو.

**تبصره:**

د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۲مه، د نړیوال بانک محکمې، پاکستان ۶,۵ ملیارده ډالر جریمه کړ؛ دا پرېکړه یې د پاکستان د حکومت او تیتیان مسو کمپنۍ (TCCP) ترمنځ د ریکو ډیک ستر کان پر سر د شخړې د حل په موخه وکړه. دا پرېکړه وروسته له دې وشوه چې د بلوچستان د کانونو ادارې د سترې محکمې د ۲۰۱۳ کال حکم په تعقیب د TCCP شرکت هغه غوښتنلیک رد کړ چې په یاد ایالت کې یې د څو ملیونو ډالرو کان د کېندنې اجاره غوښتله. د سوداګرۍ نړیوالې خونې د منځګړیتوب له مخې، که پاکستان د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر تر ۱۵مې کومې هوکړې ته ونه رسېږي؛ دغه هېواد د ۲ تر ۳ ملیارده اضافي جریمې له ګواښ سره مخ کېږي. په پاکستان کې د بهرنۍ پانګونې د ودې او ساتلو قانون ۲۰۲۲ (FIPPA) لخوا پر پاکستان د فشار د بلې دروازې د پرانیستل کېدو په مانا ده.

د حکومت لپاره دا نا معمولي خبره ده چې له سترې محکمې وغواړي چې د یوه «خپلواک» هېواد، پاکستان او د نړۍ تر ټولو مخکښ د کان کیندنې کمپنۍ تر منځ داسې سوداګریزیه معامله له وړاندې پاکه وښیي؛ هغه کمپنۍ چې د پانګې اچونې د شخړو د هواري لپاره نړیوال مرکز (ICSID) امر، چې په نړیواله کچه د پلي کېدو وړ دی، له ځان سره لري.

دا څرګنده ده چې په اوسني نړیوال نظم کې له لویو قدرتونو پرته هېڅ دولت خپلواکي نه لري. هغه «ملي خپلواکي او حاکمیت» چې په اوسنی نړیوال نظم کې «پاک او سپېڅلی» ګڼل کیږي؛ له فریب او دوکې پرته بل څه نه دي. له یوې خوا دولتونو ته اجازه ورکړل شوې چې د ملي حاکمیت او خپلواکۍ په نوم خپل قوانین جوړ کړي؛ خو له بل لوري د ICSID پشان د نړیوالو قوانیونو او بنسټونو په نوم نور قوانین ورباندې تحمیلېږي.

نړیوال حاکمیت او قوانین تر ملي قانون پورته او برلاسي دي، ځکه دولتونه باید د ډیموکراټیک نظام له مخې قوانین جوړ کړي. نو قوانین د استعماري هېوادونو له حکمونو سره سم جوړېږي، ترڅو د نړیوالو قوانینو او

پرېکړو برلاسي ډاډمنه شي؛ لکه په پاکستان کې د بهرنۍ پانګونې د ودې او ساتلو قانون ۲۰۲۲ (FIPPA) کې مو چې ولیدل.

نو کله چې یو دولت د ملګرو ملتونو، سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO)، د عدالت نړیوالې محکمې، FATF او IMF غړیتوب واخلي، نو بیا د ملي حاکمیت او ریښتني خپلواکۍ خبرې بېځایه دي. ډیموکراتیک نظام، نړیوال نظم او نړیوال استعماري بنسټونه زموږ د دښمنانو هغه «اټومي بمونه» دي، چې له لارې یې موږ د ریښتینو وسلو له کارولو پرته خپل غلامان جوړوي.

د ریښتینې خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې اوسنۍ نړیوال نظم ختم کړل شي او دا د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته ناشونې ده. خلافت هغه دولت دی چې قوانین یې له قران او نبوي سنتو څخه اخیستل شوي او د نړۍ بل هېڅ قانون نه شي ورباندې برلاسی کېدلی.

خلافت د حکومتولۍ هغه نظام دی چې اسلامي ځمکې به سره یوځای کړي او د هغوی بشري او طبیعي زېرمې به په یوه ستر ځواک بدلې کړي؛ هغه وخت به اړتیا نه وي چې خپل حاکمیت او خپلواکي د کومې بهرنۍ پانګې پانګونې ته وسپارو. همدا یوازینۍ لار ده چې کولای شو خپل عزت، سوکالي او د الله سبحانه وتعالی رضایت ترلاسه کړو.

## [وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْراً عَظِيماً]

**ژباړه:** «... او څوک چې پر هغه ژمنه ودرېږي چې له الله سره یې کړې، الله به ډېر ژر لوی اجر ورکړي» [الفتح، ۴۸:۱۰]

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## انجنیر شهزاد شیخ، د حزب التحریر ولایه – پاکستان مرستیال ویاند

ژباړه: محمد هارون رؤفي